# دفتریا

په لاندې برخه کې د دفتریا په هکله معلومات چمتو شوي دي ترڅو په استفادې سره یې وکولی شئ خپل ځان او نور وژغورئ.
دفتریا یو ډول ساري ناروغي ده چې کېدی شي وژونکې اوسي.
د پناه غوښتنې په مرکز کې کېدی شي له داسې کس سره مخ شئ چې دفتریا ولري. او یا کېدی شي په خپل سفر کې پرته له دې چې پوه شئ، په دفتریا باندې له اخته کس سره تماس ونیسئ.

**دفتریا څه شی ده؟**
دفتریا یو ډول ساري ناروغي ده چې په احتمالي ډول ژوند ته هم خطر پېښولی شي. دا ناروغي د دفتریا له باکتریا څخه رامنځته کېږي چې په جلد یا د پوزې په مخاطو او یا د ستوني په غشاوو باندې اغېزه کوي. دا باکتریا یو ډول مضر زهر تولیدوي چې همدا زهر د ناروغۍ سبب ګرځي او په ټول بدن کې خپرېږي او کولی شي د بدن غړیو ته زیان ورسوي. که چېرې کوم کس د دفتریا واکسین نه وي کړي او یا یې د دفتریا درملنه
نه وي ترسره کړې، نو په شدیده ناروغۍ یې د اخته کېدو خطر ډېر لوړ دی.

**د دفتریا علایم څه دي؟**
د دې ناروغۍ علایم معمولا د ناروغ کس سره له تماس وروسته له 2 تر 5 ورځو پورې ښکاره کېږي (خو حد اکثر تر 10 ورځو پورې ممکن ښکاره شي). دا علایم د اغېزمن ځای په موقعیت پورې توپیر کوي.

- لومړي علایم یې معمولا د ستوني درد، کم اشتهایي او ملایمه تبه وي.
- په پوزه، ستوني او/یا هوایي جهاز کې یوه غشا یا پوښ پیدا کېږي چې د خوړو تېرول یا نفس اخیستل ستونزمنوي.
  ممکن په لمفاوي غدواتو او د ستوني د دواړو طرفو په انساجو کې پړسوب ښکاره شي. که چېرې دا ناروغي ډېره شدیده شي، نو هوایي جهازونه په بشپړ ډول بندېږي
  او د فرد د خفه کېدو سبب ګرځي.
- که چېرې د دفتریا باکتریا د جلد خلاصو سوریو ته ورسېږي، نو د زخم سبب ګرځي. دا مورد معمولا په لنګیو کې لیدل کېږي.
- د دفتریا د باکتریا له خوا تولید شوي زهر د بدن اعضاوو ته زیان رسوي، مثلا کولی شي د اعصابو د فلجولو له لارې دا کار ترسره کړي. دا زیانونه د تل لپاره پاتې کېږي.

**دفتریا څنګه خپرېږي؟**
دفتریا له ملوثو خلکو سره د اړیکې نیولو له لارې خپرېږي، په ځانګړي ډول د پرنجې، ټوخي او خبرو کولو په وخت کې د پوزې یا خولې د قطراتو له لارې خپرېږي. همدارنګه کېدی شي د په دفتریا باندې د اخته کس د پوزې یا خولې د مایعاتو سره د مستقیم تماس له لارې خپره شي، د بېګلې په ډول د مچې کولو له لارې او یا د خوړو د لوښیو د شریکولو له امله. همدرانګه، کېدی شي د ناروغ کس له زخمونو یا د هغوی له جلد سره د تماس له لارې هم دفتریا خپره شي.

هغه کسان هم کولی شي د دفتریا باکتریا خپره کړي چې علایم نه دي پکې څرګند شوي.

**څنګه کولی شم د دفتریا پر وړاندې د خپل ځان ساتنه وکړم؟**
یو ډول واکسین موجود دي چې د دفتریا ناروغۍ پر وړندې مؤثر معافیت چمتو کوي (نورې برخې وګورئ).

آیا تاسو (او یا مو ماشوم) د دفتریا د واکسینو 3 دوزه ترلاسه کړي دي، که چېرې هو، نوڅه وخت؟ که چېرې یې په ځواب نه پوهېږئ او یا ډاډه نه یاست، نو باید
همدا اوس واکسین ترلاسه کړئ. د مشورې لپاره لطفا له روغتیایي متخصص سره اړیکه ونیسئ.

که چېرې مو په ځان کې علایم ولیدل، نو باید فورا د خپل مرکز کارکوونکو یا د خپل استوګنځي کوربه ته په دې هکله خبر ورکړئ، ترڅو وکولی شئ په وخت سره درملنه ترلاسه کړئ.

**مهم ټکی:** آیا تاسو (او یا مو ماشوم) د ناروغۍ احساس لرئ؟ آیا درملو، واکسینو او یا روغتیایي مشاورو ته اړتیا لرئ؟ له روغتیایي متخصص سره د اړیکې نیولو لپاره کولی شئ په آزادانه ډول د مرکز له کارکوونکو یا د خپل استوګنځي له کوربه سره خبرې وکړئ.

**که چېرې شکمن شم چې دفتریا لرم، نو باید څه وکړم؟**
که چېرې تاسو (او یا مو ماشوم) د دفتریا علایم لرئ (پورتنۍ برخه وګورئ)، نو لطفا فورا د مرکز له کارکوونکو او یا د خپل استوګنځي له کوربه سره خبرې وکړئ. ماسک واچوئ او له کورنۍ څخه د باندې افرادو سره اړیکه مه نیسئ ترڅو نور خلک په ناروغۍ اخته نه شي.

تاسو باید ژر تر ژره معاینه ترسره کړئ او درملنه ترلاسه کړئ.

**که چېرې له داسې کس سره مخ شم چې دفتریا لري، نو څه باید وکړم؟**
که چېرې تاسو (او یا مو ماشوم) له داسې کس سره مخامخ شوئ چې دفتریا لري، نو کارکوونکي به تاسو ته د هغه په هکله خبر درکړي. د دې لپاره چې ډاډه شئ چې تاسو
(او یا مو ماشوم) نه یاست ناروغ، او له ناروغۍ څخه د نورو خکلو د ساتلو لپاره به دا کارونه ترسره شي:

- تاسو به د انتي بیوتیکو له لارې معالجه شئ،
- تاسو باید د دفتریا د علایمو له ښکاره کېدو سره سم کارکوونکو خبر ورکړئ او ماسک واچوئ، او
- دامکان ترحده باید له نورو سره تماس و نه نیسئ.

**د دفتريا پر وړاندې د واکسينو په هکله معلومات**
ټول وګړي بايد د دفتريا واکسين ترلاسه کړي.

که چېرې تر اوسه د دفتريا پر وړاندې نه ياست واکسين شوي او يا ډاډه نه ياست چې د دفتريا واکسين مو ترلاسه کړي دي او که نه، نو له يوه روغتيايي متخصص سره خبرې وکړئ.
دا واکسين د تيتانوس او پوليو واکسينو سره په مشابه وخت کې تطبيقېږي (په يوه پيچکارۍ کې ګډېږي او بيا تزريق کېږي).

**د اساسي معافيت ترلاسه کول**
که چېرې کوم ځوک نه وي واکسين شوي او يا د خپلو واکسينو په هکله ډاډه نه وي، نو د بشپړ معافيت ترلاسه کولو لپاره درې دوزه واکسين ضرور دي. دويم دوز له لومړي دوز څخه دوې مياشتې وروسته ورکول کېږي، او دريم دوز له دوهم دوز څخه شپږ مياشتې وروسته تطبيقېږي. که چېرې د واکسينو بل دوز ته اړتيا لرئ خو د ملاقات وخت مو نه وي نيولی نو لطفا د مرکز له کارکوونکو او يا کوربه سره فعالې خبرې وکړئ.

**د تقويتي واکسينو تطبيق**
د واکسينو د تأثير د لوړولو او تمديدولو لپاره نظر سن ته په هرو 10–20 کالونو کې يوه توقيتي واکسين ته اړتيا ده، او که چېرې له ملوث کس سره تماس ولرئ نو کېدی شي دا موده نوره هم راکمه شي.

**د واکسينو احتمالي جانبي عوارض**
هر واکسين ممکن جانبي عوارض ولري. دا خفيف جانبي عوارض د واکسينو له تطبيق وروسته ډېر معمول دي:
- د پيچکارۍ په ساحه کې درد، سوروالی او پړسوب (ستاسو په څنګل کې د پيچکارۍ په ځای).
- ستړيا
- سردرد
- تبه

دا غبرګونونه ښيي چې ستاسو بدن د ناروغۍ پر وړاندې معافيت جوړوي. دا جانبي عوارض معمولا خفيف وي او يوازې د څو ورځو لپاره دوام کوي.
ممکن ځينې خلک **په ډېر ندرت سره** د واکسينو له تطبيق وروسته ځينې شديد حساسيتونه پيدا کړي.  د دې له کبله، ځانګړي روزل شوي او څارل شوي روغتيايي کارمندان د واکسينو کولو پرمهال موجود وي.

Schweizerische Eidgenossenschaft
Confédération suisse
Confederazione Svizzera
Confederaziun svizra

Swiss Confederation

**Bundesamt für Gesundheit BAG**
**Office fédéral de la santé publique OFSP**
**Ufficio federale della sanità pubblica UFSP**
**Uffizi federal da sanadad publica UFSP**